ليکنه:عبدالرحمن فرقاني 28/08/2009

# په افغانستان کي د انتخاباتو پايله
## دملت د ارادي تمثيلول که د بهرنيو مصلحتونو په اساس پريکړه ؟

دافغانستان له ټولټاکنو څخه څه موده وړاندي دامريکا په سياسي چاپيريال کي يو ستر بدلون را برسيره شو, چه په پايله کي يي هغه حاکمه ډله چه د حکومت چاري يي په واك کي وي له واك ګوښه شوه او د اوباما په مشري د ديموکراتانو ډله واك ته ورسيده , چه په خپل سياسي بهير کي يي له تيري شوي ډله څخه مختلفه تګلاره خپله کړه , نوي اداره په خپله تګلاره کي دمخالفينو سره د ستونزو اوارول تر جګړيز خوزښت نه د خبرو له لاري غوره وګڼل .

د افغانستان په هکله هم د امريکا د نوي اداري پاليسي د بدلون په لور په حرکت کي شوه , د افغانستان او پاکستان لپاره نوي استازي وټاکل شو تر څو د امريکا د نوي استراتيژي د تطبيق لپاره لاره اواره کړي , د نوي استراتيژي په اساس د امريکا نوي اداري تمايل درلود د دولت له مخالفينو سره د خبرو له لاره ستونزي اواري کړي , چه په همدي هکله د امريکا نوي استازي هالبروك افغانستان ته سفر وکړ او د افغانستان له چارواکو سره يي نوی استراتيژي شريکه کړه , همدا راز يي له قومي مشرانو سره هم وليدل تر څو ددوي غبرګون د نوي استراتيژي په هکله وڅيړي .

د افغانستان لپاره د نوي استراتيژي د پلي کولو په درشل کي د افغانستان د سياسي اداري او امريکا د نوي اداري تر منځ کړکيچ را برسيره شو , د نوي استراتيژي يوه موخه دا هم وه چه د افغانستان د موجودي اداري لپاره يو صدر اعظم وټاکل شي ترڅو د ښاغلي کرزي اداره د هغه تر سيوري لاندي راولي او نا شوني کړنلاري يي کنټرول کړي او د نوي اداري سياسي پروسه په افغانستان کي بريالي کړي , دا مهال د ښاغلي کرزي اداره او سياسي ټيم په نړيواله کچه ترسختو نيوکو لاندي وه , نو د اوباما اداري غوښتل چه په موجوده اداره کي د خپل سياسي حرکت په چوکاټ کي بدلون راولي , دا حرکت د افغانستان د حاکمه ډله له سخت غبرګون سره مخ شو , څه په نتيجه کي يي سياسي وضعيت دير کړکيچن شو آن تر دي چه په بربنډه توګه د مواجهي او مقابلي تګلاره په سياسي فضا کي را ښکاره شوه , چه د امريکا دخود سرانه عسکري خوزښت غندل اوسربيره پدي پريکړه شوي وه چه د انتخاباتو د خپلواك کميسيون د غوښتني په اساس چه د لوجستيکي ستونزو له امله يي کړي وه رياستي ټولټاکنو اګست مياشتي ته و ځنډول شي , ناڅاپه دافغانستان سياسي اداري د ټولټاکنو تر سره کيدل داساسي قانون سره سم په اپريل کي اعلان کړل , چه نړيواله ټولنه او داخلي سياسي ډلي يي له يو لړ ستونزو او ګواښونو سره مخ کړل .

له دي اعلان سره سم افغانستان يو ځل بيا د بهرنيو هيئتونو د تګ راتګ مرکز شو , له اعلانه سره سم د امريکا د بهرنيو چارو وزارت اعلان وکړ چه د انتخاباتو لپاره ممکن او شوني وخت د اګست مياشت ده لکه چه د ټولټاکنو خپلواك کميسون فيصله کړي وه .

د دي سياسي اخ او ډب په ترڅ کي د سياسي ساخت او بافت لپاره لاري څارل کيدي , همدارنګه د ښاغلي کرزي اداري هم د خپله راتلونکي په هکله او هغه انتخابات چه په مخکي يي درلودل غوښتل موثر ګامونه پورته کړي , په دي جريان کي ښاغلي کرزي امريکا ته سفر وکړاو له اوباما سره يي وکتل , چه په بيرته را ستنيدو سره يي موقف بدل شو انتخابات بيرته وځنډول شول . دا چه د امريکا د نوي اداره او په افغانستان کي موجودي اداري تر منځ څه وشول په مطبوعاتو کي جزيات خپاره نشول خو د افغانستان په سياسي چاپيريال کي داسي شواهد رابرسيره شول چه د دواړو ادارو تر منځ د روغي جوړي پريکړه په کي نغښتي وه او مطبوعاتو يي پخلي وکړ, د مثال په توګه د امريکا د لوړ رتبه مامورينو هلي ځلي د ښاغلي کرزي په ګټه چه غوښتل يي بغضي کانديدان د ده په ګټه تير کړي .

دګڼ شمير سياستپوهانو په اند د افغانستان د انتخاباتو نتيجه له وړاندي ټاکل شوي وه , چه د يوسياسي ساخت اوبافت په نتيجه کي ورباندي فيصله شوي وه , دديموکراسي له اصولو سره بايد د ټولټاکنو په نتيجه کي د ملت اراده تمثيل شوی وی , او هغه حکومت را منځ ته شوی وی چه ملت ټاکلي وی , که چيري په ريښتيا دا نتيجه د مصلحتونو په اساس رامنځ ته شوي وي نو آيا راتلونکی حکومت به وتوانيږي چه د ملت غوښتني پځاي کړي چيرته چه وړاندي له دي له پام غورځول شوي وي ,که له يوی‌خوا داحکومت له بهرني مصلحت پالني سره لاس ګريوان وي له بلي خوا به له داخلي کړوا سره مخ شي که چيري ائتلافي حکومت را منځ ته شي نو آيا په د کشمکش که به د ملت غوښتني له پامه ونه غورځول شي ؟


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de